په اروپا کی دمیشته افغانانو د ټولنو فدراسیون
فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا
**Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe**

# دانتقالی عدالت په اړه د فارو د کنفرانس

## پریکړه لیک

د می ۱۵ مه ۲۰۱۰ هاګ / هالند

فارو د کلنیو کنفرانسونو په لړکی سږکال هم یوکنفرانس " انتقالی عدالت په افغانستان کی " تر سرلیک لاندی په داسی حال کی چه د بیلابیلو ټولنواستازو، خپلواکو شخصیتو، د حقوقو محصلینو اود یو لړ بشری حقونو فعالینو چه دافغانستان او پاکستان نه راغلی استازوپه ګډون ۱۷۰ پوه کسانو به کی درلود ، پرانست.
په دی لړکی لمړی ښاغلی نادر نادری دافغانستان دبشری حقونو خپلواک کمسیون ویاند وینا وکړ او بیا د انتقالی عدالت په نړیوال مرکز کی دافغانستان دپروګرام په اړوند مسوولی آغلی ساری کووو پخپل وینا کی افغانستان ته ورته هیوادونوکی دانتقالی عدالت دپروسی دکړکیچتیاوی اوددغه کړکیچتیاوی دحل دلاری په هکله ګټونوالوته معلومات ولاندی کړی. دنورو ویناوالونه وروسته په اړونده ځانګړو ورکشاپونوکی په زړه پوری بحثونه وشول په دی ترڅ کی دورکشاپونو نتایج په عمومی جلسه کی د ټولو ګډونوالو تر څیرنی لاندی ونیول شول ، لاندی پریکړه لیک د رای په غوڅ اکثریت تصویب شو :
د متن پیل
ګډونوال
د تلپاتی او دقانونیت پر بنسټ ولاړی ټولنی ته درسیدو په خاطر دانتقالی عدالت د هڅو پلی کیده یو ستر او ځند نه منونکی اړتیا ګڼی. د جګړه ایز جرمونو او بشری ضد جنایاتوعاملینوته د " ملی پخولاینی اوعمومی بخښنی " په نامه د متنازع فیه " قانون " په وسیلی اوددغه قانون لخواپدغه جرایموتورن کسانوته دقضایی تعقیب مصؤنیت ورکول ، دافغانستان مظلوم اولس دغوښتنواو نړیوالو قوانینو سره په تضاد کی ګڼی او ددی " قانون " بی قید او شرطه لغوی غوښتونکی دی. په اوسنیو شرایطو کی ټول افغان مهاجرین او په خاص ډول له هیواد څخه بهردبشری حقونو سازمانونه ، فعالان او دبشری حقونو مینه والوته توصیه کیری چه د کمبودیا او لایبریا مهاجرونه په زده کړه په لاندی ټکیو کی خپلی هڅی ګړندی کړی :
۱ - مهاجرودخپل کوربه هیوادو په سیاسی مراجعو باندی په قانونی توګه فشار راوستل او نړیواله ټولنه باوری کول چه دوروستی د وردری نیمی لسیزی جنګی اوبشری جنایتونود مظنونینواو مسببینو ملاترته خاتمه ورکړی.
۲ – دهیواد دننه او بهر افغانانو تر منځ دمعلوماتو او فکری تبادلی دپراختیا لپاره اړینه بریښی چه دملی، بین المللی اونړیوال خبری څیرمواو ټولنیزرسنیوڅخه لازمه دپام وړ ګټه پورته شی.
۳ – کاری داسی ګروپونه جوړشی چه دکوربه هیوادو اړونده ارګانو باندی پرله پسی فشار راوړی اوددوی څخه وغواړی چه د دری نیمی لسیزی دبشری حقونو ناقضین او د جنګی جنایاتو مسببین او مظنونین محاکمه کړی .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

۴ – دافغان ښځو په انسانی کرامت ، آزادی او حقونو باندی په دری نیمو لسیزو کی په څرگند او سیستماتیک ډول تیری شوی دی ، نو دجگړی اړونده خواوی باید دهرډول مصالحی نه دمخه په لومړی پړاوکی پخپلو جرایمو اعتراف وکړی او له ښځو څخه په کلکه بخښنه وغواړی .
دا باید په پام کی ولرو چه دوخت تیریدل مظنونینوته دا موقع ورکوی چه یا اسناد لمنځه یوسی اویا د جرمی اسنادو په جعل لاس پوری کړی ، نونا معلوم راتلونکی ته دانتقالی عدالت تعلیق داسنادو ، شهودو او مدارکو دمنځه وړلو لاری چاری رامنځ ته کوی. څرنگه چه د وخت تیریدل دبشریت پرضد جنایاتو په څیړلو او تعقیبولو کوم تآثیر نه لری نو اړینه ده چه :
۵ – دبشریت په ضد جنایات او پیښی مستندکول ( اصلی پیښه ،دجرم د نوعیت تثبیتول، د پیښی نیته، دقربان شویو کامله هویت ، دبشریت ضد جنایاتو دعاملینوکامله هویت او داثباتیه مدارکو ډولونه لکه عکس ، سند ، دشهودو او وثایقو ثبت شوی سندونو نمونی او علایم) په ډیر دقت ثبتول او د امکان په صورت کی په دی اړه دفنی مراجعو او پوهانو له خوا تآییدی تصدیقونه د ضمیمی په ډول د اسنادو د موثقیت لپاره جوړول اوضمیمه کول. په دی ترڅ کی دهرسند منابع او سرچینی چه اسناد ورڅخه تر لاسه شوی په خورا زیر څرگند او یاداشت شی،
دا لړ اسناد د بی پلوه مراجعو په وسیله لکه بشری سازمانونو وساتل شی او د دعوی د اقامی په وخت کی د قربانی شوی خلکوپه گټه تری نه استفاده وشی،
۶ – فارو او نور ورته بی پلوه سازمانونه کولای شی د اسنادو د تکمیل او راټولولو په اړه لازمه هڅی وکړی او یو ځانگړی بنسټ ددی اسنادو د راټولولو لپاره جوړکړی .
کنفرانس ددی په څنگ کی چه په هیواد کی د جنگ د ختمیدو او دوامداری سولی د ټینگښت لپاره د هر راز اصولی خوځښتونو هرکلی کوی ، خو د سولی جرگه او دکابل کنفرانس ته چه په نږدی راتلونکی ( د ۲۰۱۰کال د جولای په شلمه ) په کابل کی پرانستل کیږی ډیر هیله مند نه دی ، ځکه چه په دی هڅو کی انتقالی عدالت په غږاند ډول اړخ ته ایښودل شوی دی. دسولی په جرگه کی د ۱۲۷۰ تنو استازو څخه اقلاً ۸۰ فیصده په دولتی کړیو پوری اړوند خلک دي او دافغانستان د بی پلوه خلکو برخه په کی دیره پیکه ده او په تیره بیاچه زمونږ د افغان کډوالوته چه په پاکستان او ایران کی میشت دي لږه برخه ورکړشوي ده او په لودیزکی میښته افغانان اودجنگ زیانمنو، دجرگی دخیمی نه بهرساتل شودی دي. نو ددی لپاره د لاندنیو ټکیو یادونه ضروری گڼو:
۷ – ددی خطرشته چه حکومتی دلي دمخالف وسلوالي ډلي سره دلنډ مهال توافق بیه دمدنی ژوند دارزښتونه یعنی د افغانستان د کړیدلی وگړو مدنی او سیاسی آزادیو او په خاص ډول د ښځو حقوق نه تادیه کړی. دکنفرانس په نظردا به دافغانستان د اوسنی اساسی قانون نه سرغړونه اوغیراخلاقی معامله وی. دافغانستان قوانین د ښځو دحقونو په هکله دبشری حقونو په نړیوالو معیارونو برابر شی ، په دی اړه لازمه بریښی چه ټول روناند ، لیکوالان او رسنی د خلکو دپوهی د لوړوالی باید د ښځودټولنیزموقف داوچت ساتلو په اړه خپلی هلی ځلی جاری وساتی. له هیواد څخه بهر اړونده سازمانونه، په تیره فاروښایی چه په داخل کی د ښځینه سازمانومتقابل ملاتړاوهماهنگی، همغږی اوملتیا ولری.
۸ د عدالت پر بنسټ ولاړد سولی دچاپیریال د رامنځ ته کیدو لپاره اړینه بریښی چه د پوهانواوسولی دفعالینو یوه نړیواله ټو لنه جوړه شی تر څو وکولای شی دجگړی د ټوله اړخونه گټی په ملی ، سیمه ایزی او نړیواله کچه تحلیل او وه ارزول شی. دا ډول پیاوړی بنسټ کولی شی د سولی د ټینگښت او دجگړی پرضد کلتوردر ته په عملی ډول دوام ورکړی .
د پریکړه لیک یاد شویو ټکیود پلی کیدو لپاره یو معین کاری گروپ وټاکل شو . د متن پای

FAROE, Post Box ۷۰۷, ۲۳۰۰ AS, Leiden,
faroe_af@hotmail.co www.afghandiaspora.org



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ